د لوړو زده کړو وزارت

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه

حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

اداره او دیپلوماسۍ څانګه

# د نړیوال تجارت سازمان پیژندنه

د لیسانس دورې پایلیک


Ketabton.com

لیکونکی: سید ادریس

لارښود استاد: صفي الله صدیق

کال: ۱۳۹۸ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# تقریظ

قدرمن ورور سید ادریس د سید حامد زوی خپله د مونوګراف موضوع د (نړیوال تجارت سازمان پیژندنه ) تر عنوان لاندې په ښه او درست شکل ترتیب او لیکلې ده ، موضوع یې په ساده او روانه پښتو ژبه لیکلې او تنظیم کړې ده ، هڅه او کوشش یې د ستایلو وړ دی ، زه یې د لارښود استاد په صفت یاده لیکنه د لیسانس دورې د پای لیک لپاره کافي بولم ، او په راتلونکي کې ورته د لایزال رب څخه د نورو بریالیتوبونو لپاره استدعاء کوم.

په درنښت

صفي الله صدیق

د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خلاصه

د سوداګرۍ نړیوال سازمان (نړیوال تجارتي سازمان) چې په انګلسي کې ورته (World Trade Organization )وايي يو نړيوال څو مليتي سازمان دي چې د نړيوالې سوداګرۍ قوانين تنظيموي، د نړيوال تجارت سازمان په ۱۹۹۵ زيږديز کال کې تر منځ ته راغي چې يو له ځوانو سازمانونو د نړيوالو سازمانونو له جملې څخه دي د نړيوال تجارت سازمان مودندې عبارت دي له: (د ۲۸ تجارتي موافقت نامو اجرايوي مدريت او نظارت، د تجارتي اختلافو حل ته رسيده ګې ، د غړو هيوادونو د تجارتي اصولو برسې او ارزونه ، مخ پر ودې هيوادونو ته ښونه او تخنيکې مرسته ورسره چې د څو اړخيزه تجارت ګټه او مزاياوو څخه برخوردار شې ، له نور نړيوالو سازمانونو سره د نړيوال اقتصاد په مديريت کې همکاري کول ، همدارنګه د نړيوال تجارت سازمان عام تشکيل عبارت دی له ( د وزيرانو کنفرانس ، عام مجلس ، عمومي اسمبلي ، د منازعاتو د حل ارګان ) ، له بلې خوا د نړيوال تجارت سازمان ارکان عبارت دي له ( د وزيرانو کنفرانس غونډه ، عمومي شورا د اختلافاتو د حل او فصل رکن ، د تجارتي کړنلارې د څيړنې رکن ) ، افغانستان د ياد سازمان غړيتوب په ۲۰۱۵ م کال کې ترلاسه کړی دی.

په نړيواله سطحه د دولتونو تر منځ د تجارتي اړيکو د تنظيم لپاره د دايمي ارګان شتون اړين دی تر څو د هيوادونو تر منځ د تجارتي اړيکو په برخه کې د شخړو او اختلافاتو د واقع کيدو مخنيوی وشي چې هغه د نړيوال تجارت سازمان دی ، دا چې د نړيوال تجارتي سازمان شتون اړين دی نو د هغې په اړه خلکو ته د معلوماتو وړاندې کول هم اړدين دي چې زما د موضوع په اهميت دلالت کوي

د موضوع د ليکنې څخه مې موخه د نړيوال تجارت سازمان د ايجاد ، فعاليتونو او تشکيلاتو په اړه خلکو د معلوماتو وړاندې کول دی.

د موضوع په ليکنه کې مې له کتابتوني ميتود څخه استفاده کړې ده ، د موضوع اړوند معلومات مې د معتبرو علمي منابعو څخه راټول کړي دي.

د موضوع د ليکنې څخه وروسته دې پايلې ته ورسيدم چې: د نړيوال تجارت د بهبود لپاره د نړيوال تجارت سازمان يو ګټور ارګان دی چې له امله يې د نړۍ د مختلفو هيوادونو تر منځ تجارتي اړيکې ټينګيږي او له بلې خوا د نړيوال تجارت په برخه کې د پيښيدونکو شخړو مخنيوی کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

خپل ګران پلار جان ته چې زما د شخصیت په جوړونه او د ژوندانه په ټولو کارونو کې یې نه ستړي کېدونکي هلې ځلې کړي ، همېشه یې راته په رښتینولۍ او سولې لاربښونه کړې خپلې ګرانې مور جانې ته چې زما فراغت یې د ژوندانه غټ ارمان او ارزو وه او د ژوندانه په هره برخه کې یې راسره تکلیفونه ګاللي او همېشه یې په پښتنه مینه پاللی یم او په اخر کې یې د خپلې کورنۍ ټولو غړو او د افغانستان غیور ملت ته ډالۍ کوم.

په درنښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننليک

زه سید ادریس د سید حامد زوی د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د اداره او دیپلوماسۍ څانګې فارغ التحصیل یم او د راسپارل شوي مونوګراف د لیکلو او تهیه کولو چارې مې د محترم لارښود استاد صفي الله صدیق په همکارۍ او مشورو بشپړې کړې دي، چې په لومړي سر کې د دې موضوع لیکل اسانه کار نه وو، خو د خپل لارښود استاد څخه په ډېره فکري او علمي مینه د زړه له کومې مننه کوم، چې ما سره یې مرسته او کومک کړی او هیڅ نوعه هلې ځلې یې را څخه دریغ نه کړې، برعلاوه د دې اثر په لیکلو کې یې را سره همکاري کړې، په څلور کلنه تحصیلي دوره کې یې هم لا زمې مشورې را کړې او همېشه یې خپل مسؤلیت ته متوجه کړی یم، د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي رئیس، مور او پلار، ورونو او په خاصه توګه محترم استاد او نورو استادانو څخه مننه کوم چې زما د شخصیت جوړونه کې یې کافي زیار ویستلی او دوی ته د کامیاب، عزتمند او د ژوند په ټولو برخو کې د هوسا او نېکمرغه ژوند غوښتونکی یم، چې زمونږ ذهنیت یې وطن ته د خدمت کولو او د دې زوربدلي ملت د هوسا ژوند او د هېواد د ابادۍ لپاره یې رهنمایې کړی دی، د هڅو او نېکو احساساتو څخه یې منونکی یم.

په درنښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


سرلیکونه صفحه

سریزه........................................ ۱

د موضوع اهمیت........................................ ۱

د موضوع اهداف........................................ ۲

د موضوع د غوراوي لاملونه........................................ ۲

پخوانیو لیکنو ته کتنه........................................ ۲

د موضوع اړونده پوښتنې........................................ ۳

د لیکنې تګلاره........................................ ۳

د موضوع حدود........................................ ۳

د موضوع پلان........................................ ٤

## لومړی فصل

## د نړیوالو سازمانونو پیژندنه ، تاریخي شالید او ځانګړتیاوې

لومړی مبحث: د نړیوالو سازمانونو پیژندنه او تاریخچه........................................ ٥

لومړی مطلب: د نړیوالو سازمانونو پیژندنه........................................ ٥

دویم مطلب: د نړیوالو سازمانونو تاریخي شالید........................................ ٦

لومړی جز: نړیوالې خصوصي ټولنې........................................ ۸

دویم جز: نړیوالې عمومي ټولنې........................................ ۹

دویم مبحث: د نړیوالو سازمانونو ځانګړتیاوې........................................ ۱۰

لومړی مطلب: د دولتونو یو ځای والی........................................ ۱۰

دویم مطلب: د اساسنامې لاسلیک........................................ ۱۱

دریم مطلب: د فعالیت دوام او غځونه........................................ ۱۱

څلورم مطلب: ګډې موخې........................................ ۱۲

پنځم مطلب: د سازمان اداري واحدونه........................................ ۱۲

دریم مبحث: د نړیوالو سازمانونو حقوقي هؤیت........................................ ۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library


لومړی مطلب: د نړیوالو سازمانونو د حقوقي هویت مفهوم ........................ ۱۳
دویم مطلب: د نړیوالو سازمانونو د حقوقي هویت اثار ........................ ۱۴
څلورم مبحث: په نړیوالو سازمانونو کې غړیتوب........................ ۱٤
پنځم مبحث: د نړیوالو سازمانونو ډولونه........................ ۱۵
لومړی مطلب: د جغرافیایي جوړښت پر اساس د نړیوالو سازمانونو ډولونه........................ ۱۶
لومړی جز: جهانشموله سازمانونه........................ ۱۶
دویم جز: سیمه ییز سازمانونه ........................ ۱۶
دریم جز: بین القاروي سازمانونه ........................ ۱۶
دویم مطلب: د غړیو یا هم د مؤسیسنو له پلوه د نړیوالو سازمانونو ډولونه........................ ۱۶
لومړی جز: نا دولتي سازمانونه ........................ ۱۷
الف: نادولتي انتفاعي سازمانونه........................ ۱۷
ب: نا دولتي غیر انتفاعي سازمانونه........................ ۱۷
دویم جز: دولتي سازمانونه........................ ۱۷


## دویم فصل

## نړیوال تجارت سازمان پیژندنه


لومړي مبحث: د نړیوال تجارتي سازمان پیژندنه او تاریخي سیر ........................ ۱۸
لومړي مطلب: د نړیوال تجارتي سازمان پیژندنه ........................ ۱۸
دویم مطلب: د نړیوال سازمان تاریخي بهیر........................ ۱۹
دوهم مبحث: د نړیوال تجارتي سازمان فعالیتونه او موخې ........................ ۲۲
لومړي مطلب: د نړیوالو تجارتي سازمان فعالیتونه ........................ ۲۲
دویم مطلب: د نړیوال تجارتي سازمان اهداف ........................ ۲۳
دریم مبحث: په نړیوال تجارتي سازمان کې د غړیتوب طرزالعمل ........................ ۲٤
لومړی مطلب: په نړیوال تجارتي سازمان کې د غړیتوب طرز العمل ........................ ۲٤
دویم مطلب: په نړیوال تجارتي سازمان کې د افغانستان غړیتوب ........................ ۲۵
څلورم مبحث: د نړیوال تجارتي سازمان اداري تشکیل........................ ۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړي مطلب:د وزیرانو کنفرانس ........................................ ۲۷
دویم مطلب: عام مجلس........................................ ۲۸
دریم مطلب: عمومي اسمبلي ........................................ ۲۹
ثلورم مطلب: د منازعاتو د حل ارگان ........................................ ۲۹
پنځم مبحث: دنړیوال تجارتي سازمان ارکان........................................ ۳۰
لومړي مطلب د وزیرانو کنفرانس غونډه ........................................ ۳۰
دویم مطلب: عمومي شورا ........................................ ۳۰
دریم مطلب: د اختلافاتو د حل او فصل رکن........................................ ۳۱
ثلورم مطلب: د تجارتي کړنلارې د ځیړنې رکن........................................ ۳۱
پایله ........................................ ۳۲
وړاندیزونه........................................ ۳۳
مأخذونه........................................ ۳٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

الحمدلله رب العالمین والعاقبة للمتقین والصلوة والسلام علی سید الانبیاء والمرسلین محمد واله واصحابه اجمعین اما بعد :

نړیوال تجارت په هغو منظمو قواعدو پورې اړه لري چې د هغه له مخې توکي او خدمات د هیوادونو تر منځ تبادله کیږي ، د دې سربیره د هیوادونو ګمرکونو او هغو سمیو ته هم شامل دي چې په تجارت پورې تړاو لري.

د نړیوالې تجارتي تبادلې ستونزې له ډیر پخوا څخه موجودې دي ان چې د یوناني ښارونو تر منځ هم دغه ستونزې لا هغه مهال موجودې وې ، مګر په نړیوال تجارت کې په تاریخي ډول پرمختګ او ترقي راغلې ده خو تر ټولو زیات پرمختګ د دویم نړیوال جنګ څخه وروسته راغلی چې له کبله یې د نړیوال تجارت په ډګر کې بین المللي سازمان د فبروري په اول کال ۱۹۹۵ م کې رامنځته شو ، خو نړیوال نظام چې د دې نماینده ګي کوي نیمه پیړۍ وړاندې رامنځته شوي یعنې په کال ۱۹۴۵ کې د کات قواعد د نړیوال تجارت لپاره وضع کړل شول د دغه اتفاق څخه په ډیره چټکۍ رسمي نړیوال سازمان رامنځته شو چې دیته د کات سازمان وویل شو او بیا دغه سازمان په څو کلونو کې زیات پرمختګ وکړ ، د دې پرمخت تر ټولو ستر وخت له ۱۹۸۶ تر ۱۹۹۴ پورې وو ، چې په پای کې نړیوال تجارتي سازمان رامنځته شو ، کات په منظم ډول د توکو تجارت تنظیم کړ او نړیوال تجارتي سازمان بیا اوس مهال ملکي او فکري خدمات تنظیموي.

دا چې د نړیوال تجارت سازمان کله رامنځته شو ، په کومو برخو کې فعالیتونه کوي ، څه موخې لرې ، دا او دیته ورته نور موضوعات په دې لیکنه کې څیړل شوي دي.

### د موضوع اهمیت

یاده موضوع خورا مهمه ده ځکه چې په نړیواله سطحه د دولتونو تر منځ د تجارتي اړیکو د ترتیب او تنظیم لپاره د دایمي ارګان شتون اړین دی تر څو د هیوادونو تر منځ د تجارتي اړیکو په برخه کې د شخړو او اختلافاتو د واقع کیدو څخه مخنیوی وشي چې هغه د نړیوال تجارت سازمان دی ، د دې لیکنې په ذریعه تاجر افراد په دې پوهیږي چې د نړیوال تجارت

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر مهال باید کوم قواعد په نظر کې ونیسي چې پر اساس يې د نړیوالو تجارتي شخړو د رامنځته کیدو مخنیوی کیږي چې دا یوه مهمه مسئله ده چې زما د موضوع پر اهمیت باندې دلالت کوي.

### د موضوع اهداف

د یادې موضوع د لیکنې اهداف په لاندې ډول دي:
۱ـ د نړیوال تجارتي سازمان د مفهوم واضح کول.
۲ـ د نړیوال تجارتي سازمان د ایجاد په هکله خلکو ته د معلوماتو وړاندې کول.
۳ـ د نړیوال تجارتي سازمان سازمان د تشکیلاتو او ارکانو په اړه د معلوماتو وړاندې کول.
۴ـ په نړیوال تجارت سازمان کې د افغانستان د غړیتوب په اړه خلکو ته د معلوماتو وړاندې کول.

### د موضوع د غوراوي لاملونه

د لاندینیو لاملونو پر اساس مې دا موضوع غوره کړه:
۱ـ د یادې موضوع په اړه د ځانګړې او مفصلې لیکنې نشتون.
۲ـ دا چې تجارت د هیوادونو او افرادو په اقتصاد جوړونه کې خورا رول لري ، دا چې په نړیواله سطحه د تجارت د رشد لپاره کوم ارګان شتون لري او د ستونزې پر مهال تاجر افراد باید کومې مرجع ته مراجعه وکړي د همدې مواردو د روښانه کولو په موخه مې یاده موضوع د مونوګراف لیکنې لپاره غوره کړه.

### پخوانیو لیکنو ته کتنه

د یادې موضوع په اړه په ځینو کتابونو کې یادونه شوې لکه:
۱ـ رضا موسی زاده (سازمانهای بین المللی) خو یاد کتاب په فارسي ژبه لیکل شوې چې زموږ اکثره پښتانه ورونه ترې استفاده نشي کولی.
۲ـ محمداکبر زاهد (نړیوال سازمانونه) خو په یاد کتاب کې د یوې قصې په شکل د یادې موضوع په اړه یادونه شوې چې د لوستونکو لپاره زړه تنګوونکې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ ـ محمد مصطفی نیازی ( د نړیوال تجارت حقوق ) په یاد کتاب کې د ځینو مفرداتو په اړه په مجمل ډول یادونه شوې ، خو ما په دې لیکنه کې د نړیوال تجارت سازمان په اړه معلومات په مفصل ډول په پښتو ژبه راټول کړي او څېړلي مې دي.

## د موضوع اړونده پوښتنې

د یادې موضوع په لاندې پوښتنې مطرح کیږي:

۱ ـ د نړیوال تجارت سازمان یعنې څه ؟

۲ ـ د نړیوال تجارت سازمان کله رامنځته شو ؟

۳ ـ د نړیوال تجارت سازمان د ایجاد موخې او فعالیتونه کوم دي ؟

۴ ـ د نړیوال تجارت سازمان ارکان او عام تشکیل کوم دی ؟

## د لیکنې تګلاره

د یادې موضوع په لیکنه کې مې له کتابتوني میتود څخه استفاده کړې ده ، د موضوع اړوند معلومات مې له معتبرو علمي کتابونو څخه راټول کړي او په اړونده ځایونو کې مې ځای پر ځای کړي او په پوره علمي امانتدارۍ مې د هغوی حواله د لیکوال د نوم ، د کتاب نوم ، جلد او صفحې په ذکر کولو سره په لمن لیک کې ذکر کړې ده او په اخره کې مې د مصادرو په فهرست کې هم ترې یادونه کړې ده.

## د موضوع حدود

دا چې د تجارت په برخه کې په ملي او نړیواله سطحه ارګانونه ایجاد شوي دي په ملي سطحه د تجارت په برخه کې د اطاق تجارت شتون لري او په نړیواله سطحه د تجارت نړیوال سازمان دی ، په یاده موضوع کې ما د تجارت نړیوال سازمان باندې بحث کړی ، دا چې د تجارت نړیوال سازمان کله رامنځته شو ، د کومو اهدافو لپاره ایجاد شو ، اوس مهال په نړۍ کې د تجارت سازمان کوم فعالیتونه ترسره کوي ، په دې لیکنه کې په همدې موارد و باندې بحث شوی دی ، بناء اطاق تجارت څېړنه زما د موضوع د حدودو څخه بهر ده او زما د موضوع حدود نه تشکیلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د موضوع پلان

یاده موضوع د خلاصې او مقدمې سربیره لاندې عنوانونو ته مشتمله ده:

**لومړی فصل** : (د نړیوالو سازمانونو پېژندنه ، د نړیوالو سازمانونو تاریخي شالید ، د نړیوالو سازمانونو ځانګړتیاوې ، د نړیوالو سازمانونو حقوقي هویت ، په نړیوالو سازمانونو کې غړیتوب او د نړیوالو سازمانونو ډولونه. )

**دویم فصل** : (د نړیوال تجارتي سازمان پېژندنه او تاریخي سیر ، د نړیوال تجارتي سازمان فعالیتونه او موخې ، په نړیوال تجارتي سازمان کې د غړیتوب طرز العمل ، د نړیوال تجارتي سازمان عام اداري تشکیل او د نړیوال تجارتي سازمان ارکان )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی فصل

## د نړیوالو سازمانونو پېژندنه ، تاریخي شالید او ځانګړتیاوې

په دې فصل کې به د بیلا ، بیلو مبحثونو په ترڅ کې د نړیوالو سازمانونو پیژندنه ، د نړیوالو سازمانونو تاریخي شالید ، ځانګړتیاوې ، حقوقي هؤیت ، په نړیوالو سازمانونو کې غړیتوب او د نړیوالو سازمانونو ډولونه د بحث لاندې نیسوو .

### لومړی مبحث : د نړیوالو سازمانونو پیژندنه او تاریخچه

د موضوع د ښه وضاحت په موخه لومړی د نړیوالو سازمانونو معنی او مفهوم روښانه کوم او بیا د نړیوالو سازمانونو په تاریخچه (پیدا ایښت) باندې بحث کوم.

### لومړی مطلب : د نړیوالو سازمانونو پیژندنه

نړیوال سازمانونه د غړو دولتونو هغه ټولګه ده چې د یوه هوکړه لیک پر اساس رامنځته کیږي او غړي هیوادونه خپلې ګډې موخې د ځانګړو اداري واحدونو او ارګانونو په چوکاټ کې په دوامداره توګه پر مخ وړي.[1]

یا په بل عبارت د هیوادونو هغه ټولګه چې نړیوالو حقوقو ته ژمن وي ، د یو سند په اساس د ګډو او دوامداره موخو د لاسته راوړلو په منظور سره راټول شوي وي ، د نړیوالو سازمانونو په نوم یادیږي.[2]

یا د نړیوالو حقوقو له نظره نړیوال سازمان هغه سازمان ته وایي چې دولتونه یې غړیتوب ولري ، که څه هم یو شمیر سازمانونه له نا دولتي بنسټونو رامنځته شوي ، خو دلته مو له نړیوالو سازمانونو څخه د بحث اصلي موضوع هغه نړیوال سازمانونه دي کوم چې له دولتونو رامنځته شوي ، نړیوال سازمان د دولتونو تر منځ د یوې هوکړې پر بنسټ رامنځته کیږي ، په دې ترتیب د هیوادونو هغه ډلې چې د تړون پر بنسټ رامنځته شوې نه وي نړیوال سازمان یې بللی نه شو.[3]

---

[1] رضا موسی زاده (۱۳۹۳هـ ش) . نړیوال سازمانونه ، ژباړن : محمد نظیم سمون ، کابل : مستقبل خپرندویه ټولنه ، دویم چاپ ، ص ۷

[2] محمد اکبر زاهد (۱۳۹۷هـ ش) . نړیوال سازمانونه، ژباړن: محمد عالم امین، جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه، لومړی چاپ ، ص ۱۹

[3] عبدالبصیرسباوون (۱۳۹۷هـ ش) . نړیوال سازمانونه ، جلال اباد : لیکوال خپرندویه ټولنه ، ص ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دویم مطلب : د نړیوالو سازمانونو تاریخي شالید**

په نړیواله کچه د سوداګریزو راکړې ، ورکړې مخ پر پراخیدونکي وده او پراختیا د نړیوالو سازمانونو د ایجاد ، رامنځته کیدو او پراختیا لامل او علت بلل کیږي.

د روابطو او عامه پوهاوي په برخه کې د میکانیزم او د نړیوالې سوداګرۍ پرمختګ او ودې د داسې سازمانونو اړتیا پیدا کړه چې د یوه بنسټیز چوکاټ او قوانینو له مخې فعالیت وکړي.

په غالب ګمان د نړیوالو سازمانونو شالید په نړۍ کې د لومړنیو حکومتونو له رامنځته کیدو سره تړلی بلل کیږي ، د بیلګې په توګه د لرغوني یونان د فیلسوفانو په لیکنو او سندونو کې د نظامي ټولنو او نړیوالو سوداګریزو تړونونو مثالونه موندلی شو، چې د اوسنیو سازمانونو لومړنۍ بیلګې بلل کیدای شي.

په لرغوني یونان او روم کې ډیر پخوا د کنسول په نوم سازمانونه او ټولنې وې چې د نورو هیوادونو پر پولو او بندرونو کې یې د خپلو سوداګرو له حقونو او فعالیت څخه دفاع کوله ، خو دا چې د کنسول کاري چوکاټ یوازې تر بهرنیو پولو او بندرونو محدود و او په نورې بهرنۍ نړۍ کې یې هیڅ ډول سیاسي مسؤولیت نه درلود ، د سفیر په نامه نور کسان بهر ته واستول شول ، چې د اړونده هیوادونو سیاسي چارې په بهر کې تنظیم کړي.[1]

د وخت په تیریدو سره دغه دوه ګونې دیپلوماسۍ (کونسول ـ سفیر) د ایټالیا حکومت د غوښتنې پر اساس د دایمي دیپلوماتیک سفیر (Permanent diplomatic ambassador) په نوم یاده شوه او له دیپلوماتیک پلاوي سره د سفیرانو لیږد رالیږد له همدغه وخت څخه دود شو.

خو د وخت په تیریدو سره د نړیوالو اړیکو پراختیا او پیچلتیا د نړیوالو او سیمه ییزو ستونزو په حل کې د دایمې سفیرانو نا توانایي ښکاره کړه ، په ځینو برخو کې به ستونزې نه یوازې له یوه هیواد سره تړلې وې ، بلکې څو هیوادونه یې په بر کې نیول[2]، چې د حل لارو چارو د موندلو لپاره به د هیوادونو د استازو په ګډون یو شمیر نړیوال کنفرانسونه هم جوړیدل ، او تر ډیره به د هیوادونو ترمنځ ستونزې له دې لارې هواریدې ، دا ډول کنفرانسونه

---

[1] جعفر هاند (۱۳۹۳هـ ش) ، نړیوال سازمانونه ، جلال اباد : مومند خپرندویه ټولنه ، دریم چاپ ، ص ۲
[2] هماغه ، رضا موسی زاده ، نړیوال سازمانونه ، ص ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا د نولسمې پیړۍ له نیمایي راپدیخوا ډیر دود شول ، د لته د بیلګې په توګه په لنډو کې د نولسمې پیړۍ یو شمیر کنفرانسونه یادوو ، چې د ستونزو د هواریدو په موخه جوړ شوي و:
د ناپلیون له جګړو وروسته په (۱۸۱۵م) کال کې د اروپا سترو ځواکونو په دغه وچه کې د امنیت او ثبات د راوستلو په موخه ویانا بین الدولي کنګره جوړه کړه ، په اصل کې د ویانا کنګره چې معاصر سیاسي پوهان یې لومړنی نړیوال یا بین الدولي سازمان بولي په اروپا کې د نړیوالې همکارۍ ، سوداګرۍ او امنیت لپاره د ګډونوالو هیوادونو تر منځ د نظرونو د شریکولو او تبادلې ځای و ، دغه راز له لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته په (۱۹۱۸م) کال کې د پاریس د مذاکراتو کنفرانس د (۱۹۱۹م) کال د وارسا تړون رامنځته کیدو ته لار هواره کړه.
تر دغو نیټو مخکې او وروسته هم د دوو او څو هیوادونو تر منځ ګڼ کنفرانسونه جوړ شوي چې په خپلو کې یې تر ډیره شته ستونزې هوارې کړې دي ، د سیاسي علومو پوهان پر دې باور دي چې د ویانا کنګره د نړیوالو سازمانونو د جوړولو او رامنځته کولو ستر لامل و ، په داسې حال کې چې لومړي الکساندر د فاتحو ځواکونو د ټولنې ایجادول او جوړول غوښتل ، په یادې کنګره کې وړاندیز وشو چې وخت نا وخت دې منظم کنفرانسونه جوړ شي ، خو داسې ونشول او یوازې به د اړتیا پر مهال غونډې کیدلې ، په ټولیزه توګه په دغه لړۍ کې څلور کنګرې جوړې شوې:

- په (۱۸۱۸م) کال کې د اکس لاشاپل (Aix-la chapelle) کنفرانس
- په (۱۸۲۰م) کال کې د تروپو او لباخ (Troppau and Laibach) کنفرانس
- په (۱۸۲۱م) کال کې د تروپو او لباخ (Troppau and Laibach) کنفرانس
- په (۱۸۲۲م) کال کې د ویرونا (Verona) کنفرانس

په پیل کې د دې پرلپسې غونډو او کنفرانسونو په جوړولو کې یوازې د منظمو او څو اړخیزو غونډو پر اړتیاوو او بنسټیزیدو ډیر ټینګار کیده ، خو وروسته ولیدل شول چې دا ډول خصوصي کنفرانسونه ټولې سیمه ییزې او نړیوالې ستونزې نشي هوارولای.
په نولسمه پیړۍ کې بیا د یو شمیر هیوادونو له استازو جوړې بیلا ، بیلې ډلې او سازمانونه رامنځته شول ، چې د نړیوالو اړیکو په رغولو او ټینګولو کې یې مهم رول ولوبوه ، په دې لړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ځيني ډلې د هيوادونو او ځينې نورې بيا د اشخاصو په واسطه جوړې شوې ، په اصل کې بايد د نړيوالو دولتي سازمانونو او نړيوالو خصوصي سازمانونو ريښې په همدغو ټولنو او اتحاديو کې ولټول شي.[1]

## لومړی جز : نړيوالي خصوصي ټولني

د غه اتحاديې (ټولنې) د خصوصي اشخاصو او صنفي ټولنو له خوا د خپلو ګټو د دفاع او ملاتړ په موخه جوړې شوې وې ، په (۱۹۴۰م) کال کې د غلامۍ پر ضد د مبارزې د نړيوال کنفرانس په ترڅ کې يو کنوانسيون تصويب شو ، چې د غه کنوانسيون له بشري حقونو څخه د ملاتړ په برخه کې د خصوصي ټولنو او اشخاصو لو يه لاسته راوړنه وه.
له (۱۸۴۰م) کال څخه تر لومړۍ نړيوالې جګړې پورې شاوخوا (۴۰۰) دايمي او خصوصي ټولنې جوړې شوې ، چې هرې ټولنې او اتحاديې ځانګړي اهداف پر مخ وړل لکه:

- د سره صليب نړيواله کميټه (۱۸۲۳م)
- د بين المجالس ټولنه (۱۸۸۹ م)
- د نړيوالو حقوقو ټولنه (۱۸۷۳ م)
- د ادبياتو او هنرونو ټولنه (۱۸۷۸ م)
- د سوداګرۍ نړيواله خونه (۱۹۱۹ م)

بلاخره د دې ټولنو چټک پرمختګ د دې سبب شو چې په (۱۹۱۰م) کال کې د نړيوالو اتحاديو عمومي ټولنه جوړه شوه ، عمومي ټولنه د نړيوالو اتحاديو د فعاليتونو د همغږۍ او د چارو د سمون په موخه جوړه شوې وه ، خصوصي اتحاديو ته په عمومي ټولنه کې د غړيتوب لپاره يو لړ شرطونه وټاکل شول چې په دې ډول دي: (د يوه دايمي ارګان شتون ، عمومي ګټې په پام کې نيول او ټولو هيوادونو او اشخاصو ته د غړيتوب ازاد حق ورکول ).
د يادونې وړ ده چې دغو ټولنو د تيرو کنفرانسونو بر عکس ، منظمې غونډې او خپل منځي همکارۍ لرلې ، د دې ټولنو فعاليتونه داسې وو چې ځيني وختونه به دولتي چارواکو ، ښاريانو او ملي شخصيتونو هم په کې برخه اخيسته ، په خصوصي اتحاديو کې د دولتي

[1] هماغه ، جعفر هاند ، نړيوال سازمانونه ، ص ۳ ـ ۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاروا کو ګډون او همدا راز له دولت سره د دوی همکاري یو داسې جوړښت رامنځته کړ چې د دولتونو او خصوصي اشخاصو تر منځ د همغږۍ او مرستې پر یو واحد مرکز بدل شو .[1]

**دویم جز : نړیوالي عمومي ټولني**

دا چې خصوصي اتحادیو ښه نتیجه ورکړه ، نو دا کار د دې سبب شو چې عمومي نړیوالې اتحادیې (ټولنې) یې هم رامنځته کړې ، یعنې د هیوادونو تر منځ یې اتحادیې رامنځته کړې یعني نړیوال سازمانونه یې رامنځته کړې ، د بیلګې په توګه د پیسو د مقدار د اوزان نړیواله کنګره چې په (۱۸۲۸م) کال کې رامنځته شوه ، چې بیا وروسته په د متریک یا اندازې په اتحادیې بدله شوه ، همدرانګه د کارګرانو د قانوني حمایت خصوصي اتحادیه چې وروسته بیا دا د کار نړیوال سازمان باندې بدله شوه ، نو نړیوالې عمومي اتحادیې په دې ډول تعریفوو چې: هغه نهادونه دي چې د یو سند پر اساس (دوه اړخیز یا څو اړخیز تړونونو) چې د هیوادونو او سازمانونو څخه تشکیل شوې دي او په فعالیتونو یې په دوامداره توګه سره وې ، هغه کړنې چې خصوصي اتحادیو به په خپلو منځو کې سره حل او فصل کولې ، عمومي نړیوالو اتحادیو دغه کړنې د هیوادونو په کچه د بحث لاندې ونیولې او دغه موضوعاتو کې یې سره همکاري کوله ، نو په مختلفو وختونو کې مختلفې نړیوالې عمومي اتحادیې رامنځته شوې ، د ارتباطاتو او اړیکو لپاره د ویانا کنګره په (۱۸۱۵م) کال کې رامنځته شوه ، همدرانګه په (۱۸۹۰م) کال کې د اوسپنې د لیږد ، رالیږ نړیواله اتحادیه رامنځته شوه ، همدارنګه په هغه وخت کې خلکو د پوست خدماتو ته هم ضرورت لره چې بلاخره په (۱۸۷۴م) کال کې د پوست نړیواله اتحادیه رامنځته شوه ، چې هر (۵) کاله وروسته به یې یوه غونډه کوله او دایمي دفتر یې هم درلوده ، همدرانګه د امراضو په اړه په (۱۹۰۳م) کال کې په پاریس کې د روغتیا عمومي نړیوال دفتر رامنځته شو ، د اقتصاد په برخه کې د چاپ حق نړیواله اتحادیه او د زراعت نړیواله مؤسسه رامنځته شوه ، که څه هم دغه کنفرانسونه ، خصوصي اتحادیې او عمومي نړیوالې اتحادیې د سازمانونو د پیدا ایښت لپاره یو اساس وو خو بیا هم دغو ټولو د ټولو هیوادونو ګټې په نظر کې نه وې نیولې او کړنې یې هم دومره نړیوالې نه وې

[1] هماغه ، رضا موسی زاده ، نړیوال سازمانونه ، ص ۴ ـ ۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

، په لومړي ځل په (۱۹۱۹م)کال کې دملتونوټولنه سازمان رامنځته شو،چې نړيوالې همکارۍ ته يې پراختياورکړه اوفعاليتونه يې هم نړيوال شول،همدرانګه په(۱۹۴۵م)کال کې دبل نړيوال سازمان رامنځته کيدل چې اوس مهال هم دوام لري اودنړۍ(۱۹۳)هيوادونه په کې غړيتوب لري.[1]

## دويم مبحث : د نړيوالو سازمانونو ځانګړتياوې

د نړيوالو سازمانونو کليمه ډيرى وختونه د جوړښت (تأسيس) سند پر بنسټ د دولتونو راټوليدو ته ويل کيږي ، هغه چې د يوې ټاکلې تګلارې او چوکاټ د ننه ځينې ګډې موخې د هميشنيو فعاليتونو په واسطه څاري ، دغه سازمانونه لاندې ځانګړنې لري:

## لومړى مطلب : د دولتونو يو ځاى والى

نړيوال سازمانونه اصلاً د دولتونو پواسطه رامنځته کيږي او دولتونه د يو سازمان له جوړولو وروسته هغه ته خپل استازي معرفي کولي ، تر څو له خپلو ګټو ساتنه وکړي ، د بيلګې په توګه د ملګرو ملتونو سازمان يادولاى شو ، چې په هغه کې د دولتونو استازي شتون لري او په زيات شمير بحثونو او پريکړو کې برخه اخلي ، البته د يو شمير سازمانونو غړي د دولتونو استازي نه بلکې د خلکو استازي دي لکه اروپايي پارلمان چې د نړيوالو سازمانونو د وروستيو بدلونونو په لړ کې په اروپا کې رامنځته شو.
که څه هم د نړيوالو سازمانونو بنسټګر معمولاً دولتونه دي خو د دې تر څنګ يو شمير نادولتي سازمانونه هم شته ، د بيلګې په ډول د کار نړيوال سازمان د هوکړه ليک له مخې د هيوادونو پر استازو سربيره د کراګرانو د ټولنو استازې او کار مشران هم کولاى شي د سازمان په غونډو او پريکړو کې برخه واخلي.
د تلګراف او مخابراتو نړيوال سازمان غړي د خپل دولت استازي نه ، بلکې د مسلکي متخصصينو او کارپوهانو په توګه په دې ټولنه کې دنده لري ، دغه راز د نړيوالې محکمې

---

[1] هماغه ، محمد اکبر زاهد ، نړيوال سازمانونه ، ژباړن: محمد عالم امين، ص ۱۶ ـ ۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاضیان د خپل هیواد استازیتوب نشي کولای ، بلکې د بې پلوۍ اصل ته په پاملرنې ټول حقوقي مسایل په عادلانه توګه څیړي.[1]

### دویم مطلب : د اساسنامې لاسلیک

د دولتونو یو ځای والی د نړیوال سازمان د جوړیدا په لار کې مهم عنصر ګڼل کیږي ، خو تر څنګ یې د اساسنامې یا بنسټلیک لاسلیکول هم اړین دي ، له اساسنامې پرته د دولتونو هر ډول یوځایوالی د سازمان د تأسیس سبب نشي کیدای ، د اساسنامې د نه تصویب په صورت کې د دولتونو یو ځای کیدل به د هغو کنفرانسونو په څیر وي چې د لنډې او ټاکلې مودې او ځانګړي هدف لپاره جوړیږي او د برخوالو د نظریاتو له تبادلې وروسته پای مومي ، د اساسنامې لاسلیکول دوه ښکینې لري:

۱ : د سازمان د موجودیت اعلان: نړیوال سازمانونه د څو اړخیزو تړونونو له مخې رامنځته کیږي لکه د معاهداتو حقوق د نړیوالو سازمانونو یوه مهمه برخه تشکیلوي ، په دې اساس د اساسنامې تصویب د نړیوالو سازمانونو د جوړیدو په برخه کې تر ټولو لومړۍ اړتیا ده او له تصویب پرته د اساسنامې اجراء الزامیت نه لري.

۲ : حقوقي او نړیوال هویت پیدا کول: د اساسنامې لاسلیک نړیوال سازمان ته حقوقي هویت وربښي او له ځانګړو حقوقو او تکالیفو څخه یې برخمنوي ، حقوقي هویت نړیوالو سازمانونو ته په خپلو چارو کې خپلواکي ورکوي او د غړو هیوادونو په وړاندې یې له هر ډول تو‌پییر څخه خوندي کوي ، نړیوال سازمانونه د خپلو کړنو او اقداماتو پر وړاندې مسؤولیت لري ، همدارراز د بودیجې ، توکو او کارکوونکو په برخه کې استقلال لري.[2]

### دریم مطلب : د فعالیت دوام او غځونه

دا چې د نړیوالو سازمانونو فعالیتونه پر نړیوالو مسایلو څرخي نو د دې ډول مسئلو حل همیشنیو او دوامداره فعالیتونو ته اړتیا لري ، له همدې امله وینو چې زیات شمیر سازمانونه د خپلو فعالیتونو دوام ته ځانګړې مهالویش نه دی ټاکلی او دا د همیشنیو

---

[1] هماغه ، عبدالبصیر سباوون ، نړیوال سازمانونه، ص ۳ ـ ۴

[2] هماغه ، رضا موسی زاده ، نړیوال سازمانونه، ص ۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړیوالو اړتیاوو له کبله دي ، د بیلګې په ډول د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان چې د نړیوالې سولې او امنیت مسؤولیت پر غاړه لري نشي کولی چې خپل دغه هدفت ته د رسیدو لپاره ځانګړې نیتـه په ګوته کړي.[1]

### څلورم مطلب : ګډې موخې

دولتونه د عامه ګټو د تأمین په خاطر ، د نړیوالو سازمانونو په چوکاټ کې ګډې موخې پر مخ وړي ، د سازمان موخې په حقیقت کې د هغه د فعالیت حدود او ساحه په ګوته کوي ، هغه سازمانونه چې ګډې موخې لري پر دوه برخو ویشل شوي:

الف: د عمومي موخو لرونکي سازمانونه.

ب: د ځانګړو موخو لورنکي سازمانونه.

تر ټولو مهم او ستر سازمان چې پورتنۍ دواړه موخې تعقیبوي د ملګرو ملتونو سازمان دی هغه سازمانونه چې ځانګړې موخې لري د شمیر له مخې خورا ډیر دي ، دا ډول سازمانونه څکه ځانګړي بللی شو چې بیلا ، بیلې موخې لري لکه (ناټو سازمان، وارسا سازمان، د اسلامي هیوادونو سازمان او داسې نور.)[2]

### پنځم مطلب : د سازمان اداري واحدونه

په یو نړیوال سازمان کې د اداري واحدونو او څانګو شتون هم اړین دی ځکه اداري واحدونه د یو سازمان د چاڑو پر مخ بیولو لپاره مهم عناصر دي او له دې پرته یو سازمان خپلې چارې په سمه توګه پر مخ بیولی نشي ، له همدې امله هر سازمان یو شمیر مهمې اداري څانګې (برخې) لري چې په دې ډول دي: (عمومي اسامبلي ، دار الانشاء او اجرائیه شورا ).[3]

### دریم مبحث : د نړیوالو سازمانونو حقوقي هوِیت

د موضوع د وضاحت په موخه لومړی د نړیوالو سازمانونو د حقوقي هویت مفهوم او بیا د نړیوالو سازمانونو د حقوقي هویت اثار د بحث لاندې نیسم.

---

[1] هماغه ، عبدالبصیر سباوون ، نړیوال سازمانونه ، ص ۶
[2] هماغه ، رضا موسی زاده ، نړیوال سازمانونه ، ص ۱۰
[3] هماغه ، عبدالبصیر سباوون ، نړیوال سازمانونه ، ص ۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لومړی مطلب : د نړیوالو سازمانونو د حقوقي هویت مفهوم**

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د نړیوالو دولتي سازمانونو د حقوقي هویت په اړه جدي بحثونه روان و ، یو شمیر حقوقپوهانو او سازمانونو لکه د نړیوالو اختلافونو د حل بانک ، د خسارې د ورکړې کمیسیون او د دانوب سیند نړیوال کمیسیون ، نړیوالو سازمانونو ته د حقوقي هویت پر ورکړې ټینګار کاوه ، همدارراز د شخړو د حل تړون () لومړۍ مادې د ملتونو تولنې او سویس هیواد تر منځ داسې حکم کاوه (د ملتونو ټولنه له نړیوال هویت او حقوقي اهلیت څخه برخمنه ده او د نړیوالو حقوقو پر بنسټ د سویس داخلي محاکم حق نه لري چې د سازمان له خوښې پرته دغه سازمان تر عدلي او قضایي تعقیب لاندې راولي ) .

د ملګرو ملتونو منشور (۱۰۴) ماده هم د دغه سازمان د حقوقي هویت په اړه ورته حکم کوي :(د ملګرو ملتونو سازمان په هر غړي هیواد کې له حقوقي اهلیت څخه برخمن دی ، تر څو وکولی شي خپلې دندې او مسؤولیتونه په سمه توګه تر سره کړي) .

د منشور په(۱۰۵) ماده کې هم د ملګرو ملتونو د مزایا او مصؤنیتونو یادونه شوې ده ، د دې مادې لومړۍ فقره داسې حکم کوي : (هر هغه سازمان چې د یوه غړي دولت په خاوره کې فعالیت کوي له یو لړ امتیازونو او مصؤونیتونو څخه برخمن دي څو د موخو په تر لاسه کولو کې ورسره مرسته وکړي ) .

دلته پوښتنه پیدا کیږي چې ایا نړیوال سازمان خپل حقوقي هویت د کوربه هیواد له داخلي حقوقو څخه اخلي او که له نړیوالو حقوقو ؟

د دې پوښتنې ځواب د نړیوالې محکمې په هغه پریکړه کې موندلای شو چې د ملګرو ملتونو پر کارکوونکو د وارد شوې خسارې د جبران په هکله شوې وه .

د یادې پریکړې له مخې نړیوالې محکمې سازمان ته د نړیوال هویت پر ورکړې ټینګار کاوه ، په پریکړه کې زیاته شوې چې سازمان بشپړ حقوقي اهلیت لري او کولی شي چې دعوا اقامه کړي ، محکمې دغه راز زیاته کړې وه چې سازمان د خپل همدې حقوقو پر اساس کولی شي د نړیوال شخصیت یا هویت حق ځان ته خوندي کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

محکمه وړاندې زیاتوي چې له حقوقي پلوه نړیوال سازمانونه او دولتونه سره توپیر لري ځکه د یوه دولت او نړیوال سازمان حقوق او مسؤولیتونه سره بیل دي ، نړیوال سازمان د بین المللي حقوقو تابع او د دعوا اقامې حق ورته خوندي دی.[1]

### دویم مطلب : د نړیوالو سازمانونو د حقوقي هویت اثار

کله چې په نړیواله سطحه یو سازمان حقوقي هویت ترلاسه کړي نو د لاندینیو اثارو درلودونکی شي:

ـ په تصمیم نیونه کې ازادي او استقلال: یو سازمان په خپل قلمرو کې د تصمیم نیونې په اړه ازاد وي او مسؤولیت به یې سازمان ته راجع کیږي نه دولتونو ته.

ـ په مالي امورو کې د سازمان ازادي: هر حقوقي شخص ، نړیوال سازمانونه د مالي امورو په اړه ازاد دي ، که څه هم د سازمان مالي مصارف هیوادونه ورکوي ، ولې د بودیجې تشخیص او لګونه د یو سازمان په غاړه وي.

ـ په حقوقي امورو کې ازادي : سازمانونه په خپلو کړنو کې مسئول دي ، همدارنګه سازمانونه د دعوا په اقامه کولو کې هم مستقل دي.

ـ د دارایي او اموالو په درلودلو کې استقلال او ازادي: د یو نړیوال سازمان ، اموال او دارایي د سازمان پورې اړه لري نه د سازمان په غړي هیوادونو پورې.

ـ د ځانګړو مزایاو او مصؤونیتونو څخه برخورداره کیدل خصوصاً په هغه هیواد کې چې د سازمان مقر یا مرکز وي.[2]

### څلورم مبحث : په نړیوالو سازمانونو کې غړیتوب

په نړیوالو سازمانونو کې غړیتوب په دولتونو پورې اړه لري، خو یو شمیر سازمانونه له دې حق څخه په استثنایي او ناقصه توګه استفاده کوي.

ځینې سازمانونه لکه د ازادۍ بخښنې غورځنګونه بنایي د غړیتوب محدود حق ولري ، دغه ډول بنسټونه د یوه هوکړه لیک له مخې چې د مشارکت تړون (Asociation agreement) په

[1] هماغه ، رضا موسی زاده ، نړیوال سازمانونه ، ص ۱۲
[2] هماغه ، محمد اکبر زاهد ، نړیوال سازمانونه ، ژباړن: محمد عالم امین ، ص ۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوم یادیږي د نړیوالو سازمانونو د څارونکي غړي په توګه منل کیږي.
څارونکي غړي یوازې د سازمان په غونډو کې د ګډون حق لري ، د پریکړې حق نه لري ، د څارونکي غړیتوب د ملګرو ملتونو په سازمان او د سازمان په فرعي څانګو کې منل شوې موضوع ده چې یو زیات شمیر سازمانونه له همدې حق څخه په استفادې د ملګرو ملتونو له سازمان سره همکاري کوي.
که څه هم د نړیوالو سازمانونو اصلي غړي دولتونه دي خو له دې سره سره یو شمیر سازمانونه د غړیتوب په برخه کې ځینې محدودیتونه لري ، یو شمیر سازمانونه د ټولو هیوادونو پر مخ خلاص دي خو ځینو نورو بیا خپل غړیتوب محدود کړی او یوازې یو څو ځانګړي هیوادونه په کې د غړیتوب حق لري، د ملګرو ملتونو سازمان د غړیتوب له پلوه یو خلاص سازمان دی خو ناټو او اروپایي ټولنه محدود سازمانونه ګڼل کیږي.
په نړیوالو سازمانونو ي غړیتوب کیدای شي له کوم قید او شرط پرته وي خو کله ، کله د ځینو شرایطو تاکل اړین او لازم ګڼل کیږي ، همدار راز ځیني وخت بنایي دغه شرایط له ځانګړو تشریفاتو سره مل وي ، مثلاً په خپله د سازمان لخوا یوه ځانګړي هیواد ته د غړیتوب بلنه او یا هم د سازمان د یوه ارګان له لورې د یو هیواد د غړیتوب منل.
ځینې سازمانونه بیا د غړیتوب لپاره ځانګړي شرایط لري او د یوه ژمنلیک پر اساس له غړو هیوادونو ژمنه اخیستل کیږي لکه د بشري حقونو درناوی او دیموکراسۍ پلي کول ، همدغه راز په سازمان کې د غړیتوب لپاره د هیوادونو اقتصادي وضعیت په پام کې نیول کیږي ، هغه سازمانونه چې پیچلی جوړښت لري شرایط یې معمولاً د غړو هیوادونو لخوا تاکل کیږي ، د دې ډول سازمانونو داخلي جوړښت او پریکړې د غړو تر منځ انډول ته په پام سره تر سره کیږي.[1]

**پنځم مبحث : د نړیوالو سازمانونو دولونه**

د نړیوالو سازمانونو ډولونه د مختلفو شمارو تر چتر لاندې تر څیړنې لاندې نیسو.

[1] هماغه ، رضا موسی زاده ، نړیوال سازمانونه ، ص ۱۶ ـ ۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لومړی مطلب : د جغرافیایي جوړښت پر اساس د نړیوالو سازمانونو دولونه**

د جغرافیایي جوړښت پر اساس سازمانونه په درې ډوله دي: (نړیوال یا جهاني ، سیمه ییز او د براعظمونو تر منځ یا د سیمې هاخوا سازمانونه)

**لومړی جز : جهانشموله سازمانونه**

هغه سازمانونه دي چې د غړیتوب دروازه یې د ټولو هیوادونو پر مخ خلاصه وي او صلاحیت یې هم نړیوال وي ، په دې مانا چې هر هیواد کولای شي په نوموړو سازمانونو کې غړیتوب ترلاسه کړي په دې شرط چې د نړیوال سازمانونو شرایط یې پوره کړي وي لکه نړیواله ټولنه ، ملل متحد ، یو نسکو ، یونیسف او داسې نور.

**دویم جز : سیمه ییز سازمانونه**

هغه سازمانونه دي چې د غړیتوب د ترلاسه کولو دروازه یې د ټولو هیوادوالو پر مخ پرانیستې نه وي بلکې د یوې ځانګړې وچې او یا هم د جغرافیایي موقعیت په اړه د غړیتوب دروازه یې پر مخ پرانیستې وي ، په دې مانا چې یو محدود شمیر هیوادونه پکې شامل وي ، او صلاحیت یې هم یوې جغرافیوي پورې وي ، لکه اروپایي اتحادیه ، د امریکایي هیوادونو سازمان ، ایکو سازمان او داسې نور.

**دریم جز : بین القاروي سازمانونه**

هغه سازمانونه دي چې نړیوال نه وي او نه هم د یوې سیمې هیوادونه په کې غړیتوب ولري ، بلکې د څو سیمو هیوادونه په کې شامل وي لکه د اسلامي هیوادونو سازمان او د ناپیمان هیوادونو کنفرانس.[1]

**دویم مطلب : د غړیو یا هم د مؤسیسنو له پلوه د نړیوالو سازمانونو دولونه**

په نوموړې طبقه بندۍ کې د نړیوالو سازمانونو ویش په درې ډوله دی: (دولتي سازمانونه او نا دولتي سازمانونه)

---

[1] هماغه ، محمد اکبر زاهد ، نړیوال سازمانونه ، ژباړن: محمد عالم امین ، ص ۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لومړی جز : نا دولتي سازمانونه**

هغه سازمانونه دي چې د غیر دولتي افرادو لخوا منځته راغلي وي او باید ووایو چې دغه سازمانونه د نړیوالو حقوقو تابع نه وي ، او په دوه ډوله دي.

**الف : نادولتي انتفاعي سازمانونه**

هغه سازمانونه دي چې مستقیماً یې هیوادونه ملاتړ نه کوي ، بلکې په غیر مستقیم ډول یې هیوادونه تر شا وي ، د نا دولتي انتفاعي سازمانونو ښه مثال ګڼ ملتیز سازمانونه دي یاد شرکتونه د نړیوالې سوداګرۍ او نړیوالو اړیکو په برخه کې د پام وړ رول لوبوي.

**ب : نا دولتي غیر انتفاعي سازمانونه**

د یوه یا څو هیوادونو له ښاریانو څخه جوړ یو نادولتي او غیر انتفاعي هویت دی چې فعالیتونه یې د ټولنې د افرادو اړتیاوو ته د ځواب ویلو په موخه ټاکل کیږي.

**دویم جز : دولتي سازمانونه**

هغه سازمانونه دي چې په هغو کې یوازې هیوادونه کولی شي چې غړیتوب تر لاسه کړي ، د دې سازمانونو ډیری برخه له دویمې نړیوالې جګړې وروسته رامنځته شول ، چې په بیلا بیلو سیاسي ، اقتصادي او پوځي برخو کې فعالیتونه کوي.[1]

---

[1] هماغه ، رضا موسی زاده ، نړیوال سازمانونه ، ص ۳۴ او ۳۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دويم فصل

## نړيوال تجارت سازمان پيژندنه

په دې فصل کې د بيلا بيلو مبحثونو په ترڅ کې د نړيوال تجارتی سازمان پيژندنه او تاريخې سير ، د نړيوال تجارتي سازمان فعاليتونه او موخې ، په نړيوال تجارتي سازمان کې د غړيتوب طرز العمل او د نړيوال تجارتي سازمان اداري تشکل او ارکان د بحث لاندې نيسم.

### لومړي مبحث : د نړيوال تجارتي سازمان پيژندنه او تاريخي سير

د موضوع د ښه وضاحت په موخه لومړی د نړيوال تجارتي سازمان پيژندنه او بيا د نړيوال تجارتي سازمان تاريخي سير د بحث لاندې نيسم.

### لومړي مطلب : د نړيوال تجارتي سازمان پيژندنه

د سوداګرۍ نړيوال سازمان (نړيوال تجارتي سازمان) چې په انګلسي کې ورته (World Trade Organization )يو نړيوال څو مليتي سازمان دي چې د نړيوالې سوداګرۍ قوانين تنظيموي دغه سازمان په ۱۹۹۴ کال کې په مراکش د معاهدې په پايله کې تاسيس شو تر څو هغه نقشه يا پلان د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې تکميل کړي چې د نړيوال دويم جنګ څخه وروسته رامنځته شو په حقيقت کې نړيوال تجارتي سازمان د عامه معاهداتو او کات د ګمرې تعرفو پايله دي خو د دې سره د نړيوال تجارت په ډګر کې اساسي رول لوبوي[1]، او د غړو تر منځ اختلافات او ناسم پوهاوي حل و فصل کوي. نوموړي سازمان د سويس هيواد په جينوا ښار کې موقيعت لري. او د کارکونکو شمير يې ۲۲۵ تنو ته رسيږي. د دې سازمان غړو هيوادونو ، د همدې سازمان ۳۰ پريکړه ليکونه لاسليک کړي او د پريکړو حقوقي او تطبيقي اړخونه ته يې ژمن دي. د ۲۰۰۷ کال د نومبر تر مياشتې پورې د دې سازمان ټول غړي ۱۵۰ هيوادونو ته رسيدل ، ويتنام د دې سازمان وروستۍ ګډونوال غړي دي دا سازمان ديرش ناظر غړي چې په پدې توګه يې غړيتوب منل شوي : الجزاير ، روسيه ،سعودي عربستان ،بلاروس او اکرين په کال (۱۹۹۳)،سودان لاو ازبکستان په کال (۱۹۹۴) ويتنام ، چيلي او تونګا په کال (۱۹۹۵)کې قزقستان په (۱۹۹۵)کې ، قزاقستان په (۱۹۹۲)کې ،

[1] محمد مصطفي نيازي (۱۳۹۷ل) ، د نړيوال تجارتي حقوق ، جلال اباد ، يار خپرندويه ټولنه ، ص ، ۱۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازربايجان او د لايو جمهوري ديموکراتيک په کال (۱۹۹۷)کې ، ساموا په (۱۹۹۸)کې ، اړندوا ، لبنان ،بوسنيا او هر زګونيا ، بوتان او کيپ ورډ په (۱۹۹۹)کې ، يمن په (۲۰۰۰) باهاما او تاجکستان په(۲۰۰۱ ) کې ايتوپيا په(۲۰۰۳ )کې ، ليبيا ، عراق ، افغانستان ، سربيا او مونتينګرو په (۲۰۰۴ )کې ايران او سايوتومه په کال (۲۰۰۵ ) کې د دې سازمان غړي شوي دي.[1]

**دويم مطلب : د نړيوال سازمان تاريخي بهير**

د نړيوال تجارت سازمان په ۱۹۹۵ زيږديز کال کې تر منځ ته راغي چې يو له ځوانو سازمانونو د نړيوالو سازمانونو له جملې څخه دي چې په حقيقت کې د غه سازمان ځاي نيونکې د تعرفي او تجارت (ګاټ) د هوکړه ليک دي چې ياده موافقت نامه په ۱۹۴۷ زيږديز کال کې منځ ته راغلي وه نو په همدې اساس ويلي شو چې که د نړيوال تجارت سازمان ځوان دي نو د څوا ړخيزه تجارت (ګاټ) مخينه تر شپيتو کلونو اوړي. د نړيوال تجارت سازمان چې د څو اړخيزه نړيوال تجارت د روابطو د تنظيم او پرمختګ په اساس منځ ته راغلي نن سبا په نړۍ کې يو له لويو سازمانونو څخه دي د نړيوال تجارت سازمان د جوړيدو تاريخي بهير به په لاندې جملو کې واضح کړو .د ۱۹۲۱-۱۰۳۹ پورې د دوه جنګونو تجربې دا رامعلومه کړه چې د تعرفو ، سهمونو او نور تجارتې مسايلو په نړي کې د تجارت مخه نيولې وه چې په اصل کې د هغه هيوادونو په منځ کې د بې کاري ستونزه تر حده ډيري شوي وه چې د مخ پر ودي هيوادونو له ډلي څخه ګڼل کيدل خو په حقيقت کې لومړي نړيوال جنګ اروپا ته ديري ستونزي راولاړي کړي لکه د پيسو د نرخ ټيټوالي د موازني له منځه تلل د بيکاري انتها او دي ته ورته مسايلو اروپايې هيوادونه جمع امريکا متحده ايالات دې ته تړ کړل چې د خپلو صنايعو او نورو اقتصادي مسايلو د حل په موخه نوي سياست غوره کړي. د لومړي نړيوال جنګ نه چې لس کال تير شول نو اروپايې هيوادونو خپل د اقتصاد پياوړي او د خپلي داخلې د توليداتو صنعت ته يې د امکان تر حده وده ورکړه ، خو د ځنو محدوديتونو په اساس نړيوال

[1] صفی الله تکاب (۲۰۱۹/۹/۶ ز) ، ويکيپيډيا : نړيوال سوداګريز سازمان ، (۱۳۹۸/۱۱/۲۹ ل) ، https://ps.m.wikipedia.org/wiki/نړيوال- سوداګريز-سازمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

تجارت ښه وده ونه کړه. نو په همدې اساس د نړیوالې ټولنې د نظر لاندې په ۱۹۲۷ زیږدیز کال کې د ۵۰ هیوادونو د استازو په ګډون د جینیوا ښار کې کنفرانس تر سره شو چې د نړیوال تجارت په مخکې شته خنډونه له منځه یوسې او اقتصادي لیبرالیزم ته لاره هواره کړي. خو دغه کنفرانس اخري اعلامیه د نصیحت په توګه پاتې شوه او د عمل جامه ور وانه غوښتل شوه. د دوهمې نړیوالې جګړې نه وروسته چې کومې اقتصادی ستونزې راولاړي شوي وي او د جګړې د خرابولو په اساس نو د نړیوالو تر منځ د سالم تجارتي رقابت د ودې لپاره د نړۍ هیوادونو سره داسې هوکړه وکړه چې د نړیوال تجارت سازمان دې له نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندق دي جوړ کړل شې. خو د دغه سازمان جوړیدنه امریکا د حاکمیت سره په ټکر کې وبلله نو په همدې اساس یاد سازمان منځ ته رانه غلي .۱۹۴۴ زیږدیزکال د جنګ له ختمیدو نه مخکې د امریکا جمهوررئس روزولټ په بلنه د برټن وودز ښار کې د یو کنفرانس په لړ کې چې د نړۍ د ۴۴ هیوادونو استازو پکې برخه اخیستي وه ، د پیسو نړیوال صندق او نړیوال بانک د جوړیدو هوکړلیک سره لاسلیک کړ دغه هڅې کولې شو وایو د دې لپاره وې چې د لومړۍ مالي تجارت ته وده ورکړي په یاد کنفرانس کې د نړیوال تجارت په هکله هم بحث وشو چې د بحث په نتیجه کې غوښتنه وشوه چې د تجارتي محدودیتونو مخه دې ونیول شې او ګمرکي حقوق دې راټیټ کړل شې او د نړیوال تجارت تر سر لاسلیک لاندې دې یو سازمان جوړ کړل شې.د دغه سازمان د جوړیدو په موخه امریکا په ۱۹۴۵ زیږدیز کال کې د یو کنفرانس د جوړیدو غوښتنه وکړه چې په کال ۱۹۴۶کې په لندن کې جوړ کړل شو. خو دغه کنفرانس بې له کومې نتیجې پای ته ورسید په دغه کنفرانس پسې سمدستې د ملګروملتونو سازمان د اقتصادي او ټولنیزې شورا له لورې یوه کمیټه جوړ کړل شوه چې د امریکا په شمول په کې نور غړي هیوادونه هم شامل وو چې د نړیوال تجارت سازمان منځ ته راتګ وڅیړي دغې کمیټې د نړیوال تجارت له پاره د منشور جوړیدنه اړین کار وباله چې په ۱۹۴۸ زیږدیز کال په هاوانا ښار کې د ۵۲ هیوادونو په شمولیت کنفرانس جوړ کړل شو او د یاد منشور د ډیرو هیوادونو له نیوکو لاندې راغې البته ډیرې هیوادونه د مخ پرودي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیوادونو په ګټه باله.[۱] یوازې د استرالیا او لیبریا هیواد وتوانیدو چې یاد منشور تصویب په موخه په خپل پارلمان کې د بحث لاندې ونیسې نور هیوادونه او امریکا چې اصلي طراح هم ګڼل کیدل ونه توانیدل چې یاد منشور په خپل کنګرس کې په تصویب ورسوي. لومړۍ موخه دا وه چې دریمګړې بنسټ دې جوړ کړل شې چې د نړیوال اقتصاد سره د همکارې ترغیب ورکړې او د برتن وودز موسسې (نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندق ) سره وتړې مکمله طرحه یې لومړې د **۵۰** هیوادونو د استقبال سره مخ شوه دا نو هغه شیبې وې چې د تجارت نړیوال سازمان (اي تي او ) دې د ملګرو ملتونو د یو تخصصي سازمان په توګه منځ ته راشې. د دغه سازمان منشور ډیر مناسب نه وه او دنړیوال تجارت له اصولو نه هم په کې زیادت شوې وې نو په همدې وجه نړیوال سازمان عملي بڼه تشکیل نه شوه خو د منشور یوه برخه یې د قراردادونو له جملې څخه وه **۳۷** مادې درلودی چې د **۲۳** هیوادونو **۱۲** د پرمختګ په حال کې هیوادونو او **۷** پرمختللي هیوادونو تر منځ سره پرې هوکړه وشوه چې دغه قرارداد د تجارت او تعرفې عمومي موافقتنامي یا(ګاټ) په نامه ونومول شو البته تر کله چې د تجارت نړیوال سازمان تشکیل شوي نه وي نو دغه قرارداد به د نړیوال تجارت سازمان ځاي نیونکې وي. نو په همدې توګه د تجارت او تعرفې عمومې موافقتنامه د **۱۹۴۷** زیږدیز کال د اکتوبر میاشتي په **۳۰** نیټه لاسلیک کړل شوه او د **۱۹۴۸** زیږدیز کال د جنوري میاشتې په لومړې نیټه د اجروړ وګرځیده چې د تجارت نړیوال قانون ګڼل کیده.[۲]

د ګات هوکړه لیک په غړو هیوادونو کې د کارموندنې د زیاتوالې ، تولید او د خلکو د ژوند د بڼه والې په موخه منعقد کړل شوې وو. د نړیوال تجارت سازمان نه شتون او دګاټ د هوکړه لیک تداوم باعث د دې شو چې ګاټ د تجارت نړیوال سازمان په څیر خپل کار ته دوام ورکړې ، د **۱۹۴۸** نه تر **۱۹۹۴** زیږدیز کال پورې د تجارت او تعرفې عمومې موافقتنامې (ګاټ)ځنې قواعد په نړیوال تجارت باندې وضع کړل د دغو کلونو په اوږدو کې نړیوال تجارت دیره وده او پرمختګ وکړ خو بیا هم د **۴۷** کلونو په تیرویدو ګاټ د یوې موافقتنامې په بڼه پاتې شو .د ګاټ موافقتنامې له پیل نیټې نه د نړیوال تجارت سازمان تر جوړیدو پورې مذاکرات

---

[۱] هماغه ، محمد اکبر زاهد ، نړیوال سازمانونه ، ص ،۲۱۵-۲۱۶
[۲] هماغه ، رضا موسی زاده ، نړیوال سازمانونه ، ص ۱۸۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

روان ول چې تر ټولو مهم مذاکرات د اروګوئه مذاکرات ول چې اووه کاله يې دوام درلود بلاخره د همدې مذاکراتو په نتيجه کې د تجارت نړيوال سازمان منځ ته راغي چې د تجارت او تعرفي هوکړه ليک ځاي يې ونيوه دغه مذاکرات ډير جامع او تر نن ورځ پورې تر ټولو اوږد مذاکرات ګڼل کيږي.[1]

**دوهم مبحث : د نړيوال تجارتي سازمان فعاليتونه او موخې**

د دې لپاره چې موضوع ښه روښانه شي لومړی د نړيوالو تجارتي سازمان فعاليتونه او بيا د نړيوالو سازمانونو موخې د بحث لاندې نيسم.

**لومړي مطلب : د نړيوالو تجارتي سازمان فعاليتونه**

د مخ پر ودې هيوادونو د سهم د زياتوالي له پاره کوښښ مخصوصاً هغه هيوادونه چې لږ مخ پر ودې دي او د هغوي معرفت له اقتصادي ودي سره د هغوي مشروع حق ګڼل کيږي.

د ګاټ موافقت نامې د اموالو په تجارت دير تاکيد لره په داسې حال کې چې نړيوال تجارت سازمان په دوه اصلي حوزو خدمات او د معنويې مالکيت حقوقو په برخه کې هم عملي کار پيل کړ د تجارت نړيوال سازمان د پورته ذکر شوو موخو د تر لاسه کولو په موخه لاندې اصول تعقيبوي.

د عدم تبعيض اصل د ګات د موافقتنامي د دريمې مادې د حکم په اساس د داخلې او خارجې لوازمو په وړاندې هر ډول تبعيض منع ده ، د بيلګې په توګه که يو غړي هيواد په بل غړي هيواد باندې څه ډول تعرفه يا ماليات وضع کوي نو دغه به هو به هو په بل غړي هيواد هم عملي کيږي يعنې هغه وايي **(MFN)** دوهم غړي هيواد سره به کوم توپير چلند نه کيږي دغه اصل ته د تجارت د ازادولو اصل د ګاټ موافقتنامې غړي هيوادونه د موافقتنامې د يولسمې مادې په اساس حق نه لري چې تعرفه او يا نور ګمرکې ماليات په صادراتو او يا هم پرې نور بنديزونه ولږوي.

تجارتي مقرراتو ته د رونتيا ورکول اصل د ګاټ موافقتنامې د لسمې مادې په اساس د ټولو قوانينو ، مقرراتو ،قضايې پريکړو او اد ارې طرزالعملونو وضاحت بايد وشي چې په

---

[1] هماغه ، محمد اکبر زاهد نړيوال سازمانونه ، ص ۲۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلورلو ویش لو ، لیږد رالیږد او ذخیره کولو تاثیر لري.
دگمرکي تعرفو د کموالي اصل، د تجارت نړیوال سازمان هر غړي هیواد د تجارت نړیوال سازمان د موافقتنامې نه علاوه په خپلو کې سره دوه اړخیزې او څو اړخیزې ناستې ترتیبوي د تعرفو د کموالي په موخه.
د عادلانه یا منصفانه تجارت اصل : په دې اصل کې د سالم تجارتي رقابت زمینه مساعده کیږي او هغه مانع چې د دغه پرمختګ مخه نیسي له منځه وړل یې د دې اصل په اساس تر سره کیږي چې د هغه مواردو مخه نیسي چې د هیوادونو تولیداتو او تجارت به پکې زیان رسیږي.
د مخ پر ودې هیوادونو سره د متفاوت رفتار اصل له هغه هیوادونو سره مرسته چې د پرمختګ په حال کې دي چې د لږو تغیراتو په منلو سره اوږد مهاله اصلاحات راولي البته باید وویل شي چې د یادو قوانیون مراعت کولو کې استثنات شته دي داسې هم نه ده چې د هرې اقتصادي سطحې هیواد به د اصولو په شان منونکې وي د تجارت نړیوال سازمان دندې عبارت دي له:

- د ۲۸ تجارتي موافقت نامو اجرایوي مدریت او نظارت.
- د تجارتي اختلافو حل ته رسیده ګي.
- د غړو هیوادونو د تجارتي اصولو برسې او ارزونه.
- مخ پر ودې هیوادونو ته ښونه او تخنیکې مرسته ورسره چې د څو اړخیزه تجارت ګټه او مزایاوو څخه برخوردار شي.
- له نور نړیوالو سازمانونو سره د نړیوال اقتصاد په مدیریت کې همکاري کول.[1]

**دویم مطلب : د نړیوال تجارتي سازمان اهداف**

دنړیوال تجارتي سازمان اهداف عبارت دي له د ژوند کولو د سطحي لوړوالي ، د کار کولو پوره تضمین ، د واقعي ګټې زیاتیدل او مؤثره غوښتنه، په نړي کې د شته منابعو نه ګټه پورته کول ، د ژوند د کچې لوړول په غړو هیوادونو کې د بشپړ اشغال یا توظف تامینول ، د

[1] هماغه ، محمد اکبر زاهد نړیوال سازمانونه ، ص ۲۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

صنعت او سوداګرۍ پراختیا او پدې برخه کې له نړالو منابعو څخه بهتره استفاده ، هر اړخیزه او پایداره انکشاف ، د چاپیریال ساتنه او په بین المللي تجارت کې د پرمختګ په حال هیوادونو ونډه زیاتول او په نړیوال تجارت کې ورته د رشد زمینې مساعدول دي.[1]
همدارنګه د هیوادونو په منځ کې د تجارت او معاملاتو په اړوند د هر راز تمیز له منځه وړل ، ټول غړي هیوادونه به په تجارتي چارو کې د هغې مجموعي قواعدو تابعداري ک،ي چې د دوي له خوا وضع کړي شوي وي. د غړو هیواونو تر منځ په تجارتي تبادلې په ډګر کې د قیوداتو له منځه وړل.[2]

**دریم مبحث : په نړیوال تجارتي سازمان کې د غړیتوب طرزالعمل**

یاده موضوع په دوه مطلبونو ویشو په لومړي مطلب کې په نړیوال تجارتي سازمان کې د غړیتوب طرز العمل او په دویم مطلب کې په نړیوال تجارتي سازمان کې د افغانستان غړیتوب د بحث لاندې نیسم.

**لومړی مطلب : په نړیوال تجارتي سازمان کې د غړیتوب طرز العمل**

د نړیوال تجارت د سازمان د غړیتوب لپاره یو لړ شرطونه وضع کړي شوي دي سربیره د دې یو لړ اجراآت هم شته چې هغه باید تر سره کړل چې دا په لاندې ډول دي.
۱-نړیوال تجارتې سازمان د هغو هیوادونو لپاره چې په دې کې غړیتوب واخلي شرط کړي ، چې لومړی به د ګمرکې ټیکسونو د تخفیف تقسیم اوقات وړاندې کوي او بیا به هغه التزامات چې برې مکلف کیږي هغه به رعایت کوي.[3]
۲-د خدماتو په اړوند د التزام وړاندې کول:هیواد التزام تقسیم اوقات وړاندې کوي چې د خدماتو په ډکر کې تر سره کوي ، سربیره د دی به فعالیتونو او دندو برخې څرګنوي او د موانعو د له منځه وړلو لپاره تقسیم اوقات وضع کوي.
۳-د نړیوال تجارتي سازمان د معاهداتو رعایت: هغه هیوادونه چې له سازمان سره غړیتوب غوښتنه لري نو پروتوکول به امضاء کوي چې دا به د تطبیق التزام او د سازمان د ټولو

[1] هماغه ، صفی الله تګاب (۲۰۱۹/۹/۶ ز) ، ویکیپیډیا : نړیوال سوداګریز سازمان
[2] هماغه ، دنړیوال تجارت حقوق ، ص ۱۳۵
[3] صباح نعوش ، اسلامي نړۍ او نړیوال تجارتي سازمان ، یاده څېړنه په الجزیره ویب پاڼه کې نشر شوې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاهداتو پابندي به په کې موجوده وي ، يوازي هغه معاهدات ورڅخه وځي چې د هغه د حکومتونو له خوا ناقص وي يا هم د مدني الوتکو معاهدات وي ، ځکه دا اختياري معاهدات دي نو کولای شي چې د اورګواي معاهدې سره موافقت وکړي او کولای شي چې دا امضاء هم نه کړي.[1]

په نړيوال تجارتي سازمان کې د يو هيواد قبلونه به په يوه لاره له دوو لاندې لارو څخه وي:

لومړي لار: مشخص هيواد به له ځانګړې کميټې څخه غوښتنه کوي چې د هغوي د غړيتوب په وړانديز غور وکړي ، د دې سره به هغه ليست هم موجود وي ، چې په ګمرکي ټيکسونو کې کموالي راولي ، دغه کميټه به لويو صنعتي هيوادونو څخه تشکيل وي د دې سربيره به هغه هيوادونه هم چې د غوښتونکې هيواد سره د تجارت اړيکې لري.

دويمه لاره: غوښتونکې هيوا د به خپله هغه ليست او تقسيم وقات د ګمرکو نو د ټيکسونو وړانديې کوي چې غواړي په سازمان کې غړي شي دغه کار به د مذاکراتو لپاره اساس وي ، په يو شمير حالاتو کې دواړه لارې په يو وخت کې بايد وکارول شي ، مشخص هي،اد به دګمرکونو ليست وړاندې کوي او په عين وخت کې به د ځانګړې کميټې له خوا ورکړي شوي ليست کې کموالي قبلوي.

د تجارت نړيوال تجارتی سازمان د تشکيل موافقت نامې د دولسمې مادې په اساس هر متقاضي هيواد چې غواړې د تجارت نړيوال سازمان غړيتوب ترلاسه کړي نو د هغه مواردو په اساس ورسره هوکړه کيږي چې د سازمان او متقاضي هيوادونو تر منځ پرې بحث کيږي له دې سازمان سره تړل کيدونکې هيوادونه په اصل کې د مذاکراتو نه وروسته له دې سازمان سره تړل کيږي.[2]

### دويم مطلب : په نړيوال تجارتي سازمان کي د افغانستان غړيتوب

د نړيوال سوداګرې سازمان په ۱۹۹۴ کال کې جوړ شو هغه مهال افغانستان په کورني جنګ کي ښکيل و او يو سم مرکزي حکومت يې نه درلوده . که څه هم د طالبانو له راتګ سره په افغانستان کې نسبي امنيت ټينګ شو ، خو نړيوال د طالبانو حکومت په رسميت نه پيژند

[1] هماغه دنړيوال تجارت حقوق ، ص ۱۴۴
[2] فادي علي مکي (ــ) ، د کات او نړيوال تجارتي سازمان تر منځ پرتله ،لومړی چاپ، د لبنان څيرنو لوی مرکز شماره ۲۰۰ ، ص ۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په ملګرو ملتونو کې د مجاهدینو حکومت د استاد رباني استازي د افغانستان استازیتوب کاوه. د دې تر څنګ هغه مهال په افغانستان اقتصادي بندیزونه هم ولیګدل له همدې کبله حکومت ونشو کړای چې د نړیوالي سوداګرۍ په سازمان کې غړیتوب وغواړي ، خو کله چې په افغانستان کې د حامد کرزي تر مشرۍ نوې نظام رامنځته شو ، نو افغانستان هم په د ۲۰۰۴ کال د نوامبر په ۲۱ مه په دغه سازمان کې د غړیتوب رسمي غوښتنه وکړه.

د افغانستان له رسمي غوښتنه وروسته ، د نړیوالي سوداګرۍ سازمان د افغانستان په اړه د ۲۰۰۴ کال د ډیسمبر په ۱۳ مه یو کاري ټیم جوړ کړ چې له ۲۸ هیوادونو څخه جوړ او مشري یې هالنډ کوله. په دغو ۲۸ هیوادونو کې ډیر یې هغه هیوادونه وو چې افغانستان تجارتي اړیکې ورسره لري ، لکه ګاونړي هیوادونه ( چین ، پاکستان ،تاجکستان ) هند ، جاپان ، روسیه ، سعودي عربستان ، اروپایي ټولنه او داسې نور.

د ۲۰۰۹ کال د مارچ په ۳۱ مه افغانستان د تجارتي سیاستونو راپور وړاندې کړ چې د ۲۰۱۰ کال د جولای په ۲۲ مه بیا د نړیوالې سوداګرې سازمان له خوا پرې پوښتني او ځوابونه راغلل.

د ۲۰۱۱ کال د جنورۍ په ۳۱ مه د افغانستان په اړه د نړیوالې سوداګرۍ سازمان د کاري ټیم له خوا لومړنۍ ناسته وشوه او د افغانستان د غړیتوب ترلاسه کولو پورې یې په بیلا بیلو وختونو کې پنځه ناستي وکړي (چې دویمه ناسته یې د ۲۰۱۲ کال د جون په ۱۸ مه دریمه ناست یې د ۲۰۱۲ کال د ډیسمبر په ۷ ما یې څلورمه ناسته یې د ۲۰۱۳ کال د جولای په ۲۵ ا وروستۍ ناسته یې د ۲۰۱۵ کال د نوامبر په ۱۱ مه نیټه )

همدا راز افغانستان د نړیوالې سوداګرۍ سازمان له نورو غړو سره هم د سوداګرۍ په اړه بحثونه وکړل او له هغوي سره هم توافق ته ورسیدل. په پای کې د نړیوالۍ سوداګرۍ سازمان کاري ډلي خپل مشر راپور د ۲۰۱۵ کال د نوامبر په ۱۳ مه دغه سازمان ته وړاندې کړ او بالاخره افغانستان د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر په ۱۷ د کینیا د نایروبي په غونډه کې د اجرائیه ریاست لومړي مرستیال انجینر محمد خان لخوا د دغه سازمان سره پروتوکول لاسلیک کړو او غړیتوب یې ترلاسه کړو.[1]

[1] هماغه ، صفی الله تګاب (۲۰۱۹/۹/۶ ز) ، ویکیپیډیا : نړیوال سوداګریز سازمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځلورم مبحث : د نړيوال تجارتي سازمان اداري تشکيل**

نړيوال تجارتي سازمان ګڼ شمير اختصاصي جهازونه لري د مراکش د معاهدې هدف د دغه جوړښت څخه دا وو چې په ځتکې سره فيصلې وکړي دغه سازمان عام جهاز لري.

**لومړي مطلب :د وزيرانو کنفرانس**

د غه کنفرانس کې د غړو هيوادونو د تجارت وزيران ګډون کوي او دوي د سازمان په راس کې قرار لري ، لږ تر لږه په هرو دوو کلونو کې يو ځل غونډه کوي ، دغه کنفرانس دندې په لاندې ډول دي.

۱-د فرعي او داخلي کميټو جوړول: د خارجه وزيرانو دعه کنفرانس به د تجارت د بهبود لپاره کميټې تشکليوي، دارنګه به د پانګې د دفع کولو لپاره کميټه جوړوي ، دمالي او اداري چارو لپاره به کميټه جوړوي ،تجارت د معاهدې مطابق به خپلې دندې پر مخ بيايې ، دارنګه مجلس حق لري چې د دې کميټو څخه پرته د ضرورت له مخې نورې هم تشکيل کړي.

۲-د سازمان لپاره د عام مدير ټاکل او دهغه صلاحيتونه محدودول: د وزيرانو کنفرانس به عام مدير ټاکې د هغه وجايب او صلاحيوتونه به په ښنبه کوي ، د هغه د خدمت شرايط او د کار موده هم تعينوي.

د سازمان د معاهداتو تفسير: د وزيرانو کنفرانس به د سازمان معاهدات تفسيروي او دغه دنده يوازې تر دوي پورې محدووده ده ، تجارتي معاهدې د تفسير پر مهال به له حپل صلاحيت او قدرت څخه کار اخلې ، خو د مجلس د رهنما د توصيې مطابق عمل کوي، البته د تفسير په هکله به د اکثريت رايو اعتبار ورکول کيږي.

۳. د يو شمير غړو د التزاماتو عفوه کول د وزيرانو کنفرانس او عام مجلس په استثانيې حالاتو کې حق لري چې د يو يا زياتو غړو د التزاماتو ببنبه وکړي. يعنې هغه التزامات چې د معاهدې په ترڅ کې پرې لازم شوي وي عفوه کړي ، په دې شرط چې دا فيصله د درې پر ځلورو رايو سره صورت مومي.

۴-يو شمير غړو د غوښتنې پر بنسټ د معاهداتو د ځينو مادو تعديل په سازمان کې هر غړي کولای شي چې د وزيرانو کنفرانس ته د معاهدې د ځينو مادو تعديل غوښتنليک ورکړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا غوښتنلیک به د ۲او د ۳ مادو پر اساس وي. ځکه د معاهدې ضمیمه ۲۲ ماده تر تجارتې توکو پورې خاص ده او دریمه ضمیمه تر اجراآتو تر قواعدو پورې خاص ده ، البته د تعدیل لپاره به موافقه د وزیرانو د مجلس څخه وروسته په اتفاقي د رایو سره صورت نیسې.

**۵**-دنویو اضافي تجارتي معاهداتو موافقه وزیرانو کنفرانس حق لري چې د غړو د غوښتنې په اساس نوي معاهدات تائید کړي په تیره بیا **۴۴** ضمیمې ته ځکه دا یوازې د تجارتي متعددو اطرافو د مدني الوتکو ، دولتي مشتریانو او لبنیاتو او غوایې غوښو تر تولیداتو پورې خاص دي.

**۶**-د نویو غړیو د منظوري صلاحیت د وزیرانو کنفرانس حق لري چې د نویو غړو د منظوري فیصله وکړي ، خو دا په سازمان د دوه پر درې برخې اعضاوو سره صورت نیسې.

**۷**- په استثنایې شکل د یو شمیر غړو د معاهدې د نه تطبیق موافقه د وزیرانو کنفرانس کولای شي چې د تجارت د متعدد اطرافو معاهده په خاصو حالاتو د ځینو غړو د نه تطبیق موافقه وکړي ، دا به د هر غړي د غوښتنې پر اساس کیږي چې وضاحت یې په **۱۳** ماده کې ذکر دي.[۱]

**دویم مطلب : عام مجلس**

عام مجلس د وزیرانو له کنفرانس څخه وروسته دویم مقام لري په دې مجلس کې به د غړو هیوادونو نمایندګان غضویت لري ، دوي به د هغه چارې مخ ته بیایې چې د وزیرانو د کنفرانس د دایریدو په منځ کې واقع کیږي ، په دې اساس عام مجلس د دوام او استمرار صفت لري ،ځکه دا د دې وړ دې چې په هر وخت کې منعقد شي او اختصاصات یې په لاندې ډول دي.

**۱**-اداري اختصاص په دې کې مجلس مالي دندې او کلنۍ پانګه تنظیموي.

**۲**-د مراقبت اختصاص مجلس صلاحیت لري چې د تجارتې سیاست مراقبت هغه مهال وکړي چې مناسب ورته ښکاره شي.

**۳**-قضایې صلاحیت مجلس کولای شي چې هغه منازعات حل کړي چې وارو مناسب وي.

---

[۱] نبي بصیرت ، نړیوال سازمانونه (۱۳۹۸) مسلم خپرندویه ټولنه ، صفحه ، ۲۴۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دي سربیره مجلس کولای شي چې د فرعي مجالسو مراقبت وکړي لکه په توکيو کې د تجارت مجلس ، په خدماتو کې د تجارت مجلس ، د فکري ملکيتونو د حقوقو مجلس ، د بيلابيلو ارګانونو د فعاليتونو جاج اخيستل ، دارنګه مجلس کولای شي چې بيلا بيلو نړيوالو سازمانونو سره همکاري وکړي تر څو په نړيوال اقتصادي سياست کې نظم او دسپلين تحقق ومومي.[1]

## دريم مطلب : عمومي اسمبلي

دغه اسمبلي به د وزيرانو مجلس جوړوي د هغه لپاره به يو مدير ټاکي دا رنګه به قواعدو مطابق ورته مامورين ټاکي ، عمومی اسمبلي به اداري فعاليتونه چې په مالي چارو پورې تړاو ولري پر مخ بيايي ، د دې نه هم مهم دا دي چې د غړو سره به د منازعاتو په حل کې مرسته کوي ، په قانوني او اجرائيوي برخو کې هم د وزيرانو کنفرانس سره مرسته کوي.[2]

## څلورم مطلب : د منازعاتو د حل ارګان

هغه احکام چې د کات په سازمان کې په ۱۹۴۷ کال کې موجود ول په تيره بيا د تجارتي منازعاتو د حل په باره کې تر يو څه اندازې ناقص وو ، ځکه د هغه لپاره داسې مراقبت کميټه نه وه موجوده چې بيا يې مراجعه کړي واي او غلطي ورڅخه يستلي واي ، دارنګه نوموړي ملزم هم نه ول ، نو د نړيوال سازمان له تشکيل څخه وړاندې په تجارتي اړيکو کې ګډودي موجوده وه ، ځکه هيوادونو به د ترخپل مينځ د تجارتي جزاګانو غوښتنه کوله له همدې کبله په نړيوال تجارتي سازمان کې د منازعاتو د حل نظام قايم کړي شو ، تر څو د غړو هيوادونو د حقوقو ساتنه وکړي او هم منازعاتو ته داسې د حل لارې پيدا کړي چې هغه ابرو مندانه وي او اختلافات په ښه توګه حل کړي.[3]

---

[1] هماغه ، د نړيوال تجارت حقوق ، ص ۱۴۰ ـ ۱۴۱
[2] عبدالناصر نزوال (۱۹۹۹ ز) ، د نړيوال تجارت سازمان ، عمان ، ص ۱۸
[3] هماغه ، د نړيوال تجارت حقوق ، ص ۱۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پنځم مبحث : دنړیوال تجارتي سازمان ارکان**

د تجارت نړیوال سازمان اصلي ارکان عبارت دي له : د وزیرانو کنفرانس،عمومي شورا ،تجارت کړنلارې د څیړنې رکن ، اختلافاتو د حل او فصل رکن ، تخصصی کمیټې او دارالنشاء څخه چې هر یو جلا جلا د بحث لاندې نیسم.

**لومړی مطلب د وزیرانو کنفرانس غونډه**

د وزیرانو کنفرانس (غونډه) د تجارت نړیوال سازمان په تشکیلاتي جوړښت او د پریکړې یو له مهمو برخو نه ده همدا د وزیرانو کنفرانس ده چې د غړو هیوادونو له استازو نه جوړیږي او لازمه ده چې هر دوه کاله یو ځل سره غونډه شې او جلسه دایره کړي د وزیرانو کنفرانس په جلساتو کې اجنډا د عمومې شورا له خوا چې جوړه شوي د بحث لاندې نیول کیږي او صلاحیت لری چې ټول مسایل چې د نړیوال تجارت سازمان پورې اړه لري د څو اړخیزي موافقتنامې د چارچوب په اساس هر پریکړه وکړي.

د تجارت نړیوال سازمان د وزیرانو کنفرانس لومړي غونډه وروسته د جوړیدو د یاد سازمان نه په کال **۱۹۹۶** زیږدیز کال کې سنګاپور په ښار کې ترسره شوه، دوهمه غونډه یې د **۱۹۹۸** زیږدیز کال د مې په میاشت کې د ژنو په ښار کې تر سره شوه ، دریمه غونډه یې د **۱۹۹۹** زیږدیز کال د سپتمبر په میاشت کې د امریکا د ستایل په ښارکې تر سره شوه، څلورمه غونډه یې د ۲۰۰۱زیږدیز کال د نومبر په میاشت کې د قطر هیواد په دوحه ښار کې تر سره شوه ، پنځمه غونډه یې پ ۲۰۰۳ زیږدیز کال په سپتمبر میاشت کې د مکسیکو هیواد په کانکون ښار کې تر سره شوه او شپږمه غونډه یې د **۲۰۰۵** کال د دسامبر په میاشت کې د هنکانګ په هیواد کې تر سره شوه.[1]

**دویم مطلب : عمومي شورا**

عمومي شورا چې د تر ټولو غړو هیوادونو له استازو نه جوړ شوي ده د وزیرانو کنفرانس نه وروسته له مهمو رکنونو د تجارت نړیوال سازمان نه ګڼل کیږي ، عمومي شورا په هرو دوه میاشتو کې یو ځل جلسه نیسې چې د سازمان نه ګنل کیږي ، د عمومي شورا په هرو دو

[1] هماغه ، محمد اکبر زاهد نړیوال سازمانونه ، ص ۲۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

میاشتو کې یو ځل جلسه نیسي چې د سازمان ورځنې چارې د وزیرانو کنفرانس د ندې د دوي په نه شتون کې ترسره کړي او راپور يې بیا د وزیرانو کنفرانس ته وړاندې کړي. د دي شورا بله دنده فرعي شوراګانو ته هدایت او نظارت ده یادې شوراګاني عبارت دي له: د تجارتي اموالو شورا، تجارتي خدماتو شورا د تجارتی معنوي مالکیت شورا.
عمومي شورا همدارنګه د اختلافاتو د حل او فصل د رکن او د تجارتي کړنلارې د څیړني د رکن مسؤلیت هم په غاړه لري او په ځنې مواردو کې د یادو رکنونو پر ځاي هم اجراآت کولای شي ، د عمومي شورا د تجارت نړیوال سازمان رابطه له نورو نړیوالو سازمانونو سره هم ټینګوي او د ا کار هم د دي شورا له مسؤلیتونو څخه ده ، د مالي مقرراتو تصویب د تجارت نړیوال سازمان د کلني بودیجي مسؤلیت او همدا راز د هر غړي د غړیتوب حق هم دا عمومي شورا تعینوي.[1]

**دریم مطلب : د اختلافاتو د حل او فصل رکن**

د غړو هیوادونو په منځ کې د مشورې د پیداکولو تر څنګ د ستونزو او اختلافاتو د حل او فصل مرجعه ده ، یاد رکن مشکلاتو ته رسیدګي هیات او د بیا کتنې مرجع جوړه وي او د غړو هیوادونو په منځ کې چې د څو اړخیزو موافقتنامو له وجهې چې کومي ستونزي را ولاړیږي د هغو حل ته رسیده ګي کول د یاد رکن پریکړې په ټولو غړو هیوادونو لازم الاجراء دي.[2]

**څلورم مطلب : د تجارتي کړنلارې د څیړني رکن**

عمومي شورا کولاي شي د تجارتي کړنلاري د ارزونې په توګه جلسه وکړي دا رکن خپل ځانګړي قوانین لري چې تر ډیره حده د سازمان د تجارتي سیاستونو د بدلون او یا په هغه کې د تجدید نظر په اړه کار کوي.د هر کال په پیل کې د غړو له منځ څخه د یو کال لپاره د دي رکن رئیس او دوه معاونین انتخابیږي.[3]

---

[1] هماغه ، رضا موسی زاده ، نړیوال سازمانونه ، ص ۱۹۰
[2] هماغه نبي بصیرت ، نړیوال سازمانونه ، ص ۲۵۲
[3] هماغه ، محمد اکبر زاهد ، نړیوال سازمانونه ، ص ۲۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله

د نوموړي موضوع د لیکنې څخه وروسته دې پایلې ته ورسیدم چې:
د نړیوال تجارت د بهبود لپاره د نړیوال تجارت سازمان یو ګټور ارګان دی چې له امله یې د نړۍ د مختلفو هیوادونو تر منځ تجارتي اړیکې ټینګیږي او له بلې خوا د نړیوال تجارت په برخه کې د پیښیدونکو شخړو مخنیوی کوي.
په نړۍ کې په مختلفو برخو کې د تجارت د ودې لپاره یو داسې ارګان ته اړتیا ده چې د هیوادونو تر منځ تجارتي اړیکې لا پراخه کړي او هغه هیوادونه چې یو له بل سره یې تجارتي اړیکې قطع کړي د بیا ځل لپاره د دوی تر منځ تجارتي اړیکې قایمې کړي چې خوشبختانه دا ارګان د نړیوال تجارت سازمان دی چې عملاً یې په فعالیت پیل کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وړانديزونه

د يادې موضوع د ليکنې څخه وروسته ځينې وړانديزونه لرم:

۱ ـ نړيوال تجارت سازمان ته مې وړانديز دا دی چې د نړۍ د هيوادونو تر منځ دې تجارتي اړيکې پراخه کړي.

۲ ـ ټول تاجر افرادو ته مې وړانديز دا دی چې د نړيوال تجارت پر مهال دې د نړيوال تجارت قواعد او اصول رعايت کړي او د هغې د نقض کولو څخه دې ځان وساتي.

۳ ـ دولتونو ته مې وړانديز دا دی چې نړيوال تجارت دې د سياست ښکار نه ګرځوي يعنې نړيوال تجارت دې له سياست څخه جلا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مأخذونه

۱: بصیرت ، عبد النبي ، نړیوال سازمانونه (۱۳۹۸) مسلم خپرندویه ټولنه
۲: زاهد ، محمد اکبر (۱۳۹۷هـ ش) . نړیوال سازمانونه، ژباړن: محمد عالم امین، جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه، لومړی چاپ
۳: سباوون ، عبدالبصیر (۱۳۹۷هـ ش) . نړیوال سازمانونه ، جلال اباد : لیکوال خپرندویه ټولنه
۴: علي مکي فادي (ـ) ، د کات او نړیوال تجارتي سازمان تر منځ پرتله ،لومړی چاپ، د لبنان څیړنو لوی مرکز شماره ۲۰۰
۵: موسی زاده ، رضا (۱۳۹۳هـ ش) . نړیوال سازمانونه ، ژباړن: محمد نظیم سمون ، کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه ، دویم چاپ
۲: نزوال ، عبدالناصر (۱۹۹۹ ز) ، د نړیوال تجارت سازمان ، عمان
۷: نعوش، صباح ، اسلامي نړۍ او نړیوال تجارتي سازمان ، یاده څیړنه په الجزیره ویب پاڼه کې نشر شوې ده
۸: نیازی ، محمد مصطفي (۱۳۹۷ل) ، د نړیوال تجارتي حقوق ، جلال اباد ، یار خپرندویه ټولنه
۹: هاند ، محمد جعفر (۱۳۹۳هـ ش) ، نړیوال سازمانونه ، جلال اباد : مومند خپرندویه ټولنه ، دریم چاپ

**انټرنيتي ادرس**

۱۰: صفی الله تګاب (۲۰۱۹/۹/۲ ز) ویکیپیډیا : نړیوال سوداګریز سازمان (۱۳۹۸/۱۱/۲۹ ل)
https://ps.m.wikipedia.org/wiki/نړیوال-سوداګریز-سازمان

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**